مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنګروال

۲۰۲۶/۰۹/۲۱

# د غوراصلي اوسېدونکې،

## (ترکان،پښتانه که تاجکان)

### ۲برخه

لکه له نومه چې معلومېږي غور یوه داسې غرنۍ سمیه ده، چې په لرغونوزمانو کې، تر ډېره بریده ورته تګ او راتګ ستونزمن وو، که څه هم د تېر په پرتله اوس د یو شمېر اسانتیانوو پر بنسټ ورته لاس رسی موجود دی، خو بیا هم په طبعی بڼه د دغې سیمې جغرافیوي جوړښت پېچلی دی.
یاقوت حموي د غور د ځمکی پراختیا او جغرافیوي جوړښت داسې راپېژني :
دغه پراخه سیمه د هرات او غزني تر مینځ موقعیت لري، تګ و راتګ ورته ډېر ستونزمن، خطرناک او وېرونکی دی. که څه هم یوه پراخه غرنۍ سیمه ده ولې بیا هم کوم لوی ښار په کې نه تر سترګو کېږي. یوازې یوه ستره کلا، چې د فیروز کوه پنوم یادیږي ودانه وه اودا د «سام» د سلطنتي کورنۍ مقا م ا و ځاې و.» » دلته د«سام» یادونه بیا وشوه، سام په لرغونو متونو کې د سیستان اتل وو اود استوروي تاریخ له مخې د «فریدون» کیسه په دې تړاو د پام وړ څکه ده، چې د سام اتلولي پکې انځور شوېده.
فریدون یو نامتو پاچا وو او درې زامن یې درلودل، چې د سرم (سلم)، تور او ایرج په نامه نامتو وو.
دوه لومړني نومونه د یوې مور اولادونه ول او دریم چې «ایرج» نومېده، له بلې مور څخه و، چې «ارنواز» نومېده.
د سلم (سرم) او تور مور د نامتو «ضحاک» لور وه، چې په دې اساس دوئ دواړه د ضحاک لمسیان کیدل سلم همغه ساکې سر یمن او د اوستا سریم دی، چې پهلوي «سرم» په پای کې «سلم» شویدی او له سلیمان سره هم بې تړاوه نه دی.
فریدون پخپل ژوندانه کې د سلطنت چارې د درې زامنو تر مینځ ووېشلې،روم پلوته ځمکې د سلم په برخه شوې، چیني ترکستان (اوسنی واخان اوشاوخوا سیمې )،«تور» ته ورکړ شو، اوسنی ایران ایرج ته په وېش کې ورسېد.
سلم او تور د خپل پلار له دې ویش سره مخالفت وښود او خپل میرنی ورور «ایرج یې وواژه او د هغه سر یې فریدون ته واستوو.
فردوسي به شهنامه کې د دې کېسې یادونه کړېده او یو شمېر نورو په اسلامې پېر کې د دې خبرې پخلی کړیدی، په اوستا او پهلوي ادبیاتو کې هم اشاره شوېده، چې موخه ترې همغه د فریدون او د درې زامنو یو تریخ داستان دي.
ختیځپوه «کرستن سن» په دې اند دی، چې دغه افسانه په ساکي ټاټوبي کې مینځته راغلې ده او د «اشکایانو» د واک په پېر کې دغه ولسي او پلکوریکه افسانه نورو اریایي څانګو ته لاره کړېده.
فریدون د خپل زوې «ایرج» د غچ او کسات اخستلو لپاره دلور له خوا د هغه لمسی «منوچهر» د سیستان هغه اتل ته، چې «سام» نومېده وروسپاره، چې ښه یې وروزي.
منوچهر په ډېرې زړورتیا د «سام» او د سیستان د نورو اتلانو په ملاتړ او ملتیا د «تور او سلم» لښکر ته ماته ورکړه او د هغوئ سرونه یې فریدون ته واستول.
د سیستان د دغه نامتو اتل «سام» یادونه چې یاقوت حموي کړېده، چې د ده زوزات او ټبر د غور د فیروز کوه سلطنتي کورنۍ ګڼلی شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

فیروز کوه په لرغونو متونو کې هم راغلی دي، «ابو الغدا» د شین غره په مانا یاد کړیدی. ابو اسحاق ابراهیم اصطخري هم غور یو اباد ولایت د باغونو ښتن یاد کړیدي، د غور د چینو،معد نونو او رودونو یادونه یې هم کړیده او ځلور خواوې داسې را په ګوته کوي :
له هري تر زمینداور، ترغرجستان، سیستان اودغور غرونه د خراسان په حد، همدارنګه تر بامیانو، پنجهېر، ماورالنهر، ترکستان، شاش (تاشکند) او تر خرخیز پورې رسېږي، په دغو غرونو کې له پیل نه تر پایه سپین زر ډېر پیدا کیږي .» د دغو غرونو شمال ته بابا غر، جنوب ته روزګان او زمینداور ختیځ ته اجرستان او غزني، لویدیز ته فراه، هرات او بادغیس یادولی شو.
نوم ورکي جغرافیه پوه په حدود العالم کې کښلی دي: «غور، سیستان او دوېته ځېرمه نورې سیمې له خراسان سره هم پوله دی .» ابن خلدون هم په دې اند دی، چې «غور د هرات، فراه، زمینداور، ګوزګانان او غرجستان په مینځ کې موقعیت لري او بامیان د غور په ختیځ کې پروت دی.» موږ دمخه د افغانستان د لرغوني او افسانوي تاریخ په رڼا کې د«ضحاک» په اړه یوه لنډه یادونه وکړه، چې د جوزجانی د روایت له مخې بسطام د ضحاک هغه زوی وو، چې په هند کې تر هغې حکومت کاوه، چې پلار یې د فریدون لاس ته ورغی او بیا یې پر هند برید وکړ.
بسطام چې د مقابلې وس نه درلود، بدخشان ته لاړ او په شغنان کې واړول اوهلته ډېر تم نشو بامیانو ته راواووښت، کله چې د فریدون ځواکونه وروړسېدل، دی غور ته راننووت او د غور د غرونو په کلا کې واړول.
فریدون بیا هم دی وځاره، خو د زامنو د نا یووالي له امله، چې «ایرنا = ایرج» ووژل شو، ده ونشو کولی چې بستام تر ولکې لاندې راولي.
«بستام له هغو سره روغه وکړه، خپل ټبر او د ضحاک( سهاک ) اولادونه او زامن یې راوغوښتل او هملته یې ژوند پیل کړ او شمېر یې ډېر شو.» ګڼ شمېر څېړونکو او بهرنیو ختیځپوهانو ضحاک، سهاک بللی دی. سر محقق دوست شینواري په دې اند دی، «ساک، سهاک چې عربو مولفینو د سهاک نه ضحاک جوړ کړی او د سیمې په کلاسیکو ادبیاتو کې هغوئ د تشد د او غښتلتیا له امله د «دیو» سمبول ګڼل شویدي، په اوستایي متونو کې د «تور= تورانیان» په نامه یاد شویدی.» د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز د پرانستې په ویاړ، په نړیوال سمینار کې پروفیسور مورګن سترنې پخپله وینا کې پښتانه «ساک» وبلل.
لیکوال جوزجاني دغه خبره هم کړي، کله چې د فریدون له خوا «ضحاک» ونیول شو، د بستام دوه ورونه سوري او سام «نهاوند» ته لاړل.
لکه د مخه چې مو ووېل،سوري په کوچینوالي کې خپله لور د «سام» زوی ته ورکړه، خو کله چې دواړه لوی شول، په دغه وخت کې سام مړ شوی وو او سوري ونه غوښتل خپله لور وراره ته واده کړي .
دلته دی، چې د تاریخي روایتونواودوېشلونظرونو له مخې د بستام، سام او سوري اولادونه په غور کې ځای پر ځای شول، چې په پای کې همدغه سوریان، لودیان، غوریان او د دوئ اولادونه او زوزات وو، چې لومړي یې په غور کې د یوه سیمه ییز حکومت بنسټ کېښود او بیا یې تر هندوستانه او پارس پورې دخپل حکومت لمنې او ځنډې پراخې کړې.
غور د افغانستان له لرغوني تاریخ نه راواخله د اسلام د دین تر خپریدو پورې د عجایبو هېواد وو، چې هیچا په زور ندی لاندې کړی. که هر یرغلګر په افغانستان برید کړیدی، له هخامنشیانو نیولې تر یونانیانو پورې، د غور پیاوړې مورچل یې نه دی لاندې کړی اوان همدغو ساکو ( سهاکو ) پارسوا « کروش » له مینځه یووړ ولی غوریان ورته تسلیم نه شول.
د اسلام د سپېڅلي دین د خپریدو په مهال بیا هم په غور کې د بستام، سام او د سوري ټبر اولادونو سیمه ییزه خپلواکي خپله کړې وه.

( نوربیا )



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ